بسم الله الرحمن الرحیم

امارت اسلامی افغانستان

ستره محکمه

ریاست عمومی دارالانشاء

آمریت تحریرات

بخش متحدالمآل

شماره متحدالمآل: ۳۲

تاریخ: ۱/ رجب المرجب/ ۱۴۴۵ هق
مصادف: ۲۳/جدی/ ۱۴۰۲ هش

عاجل ☐ عادی ☐ اطمینانیه ☐ ابلاغیه ☐ سایر ☐

**به منسوبین محترم ریاست های تمیزها، دیوان ها، محاکم مرافعه و ابتدائیه امارت اسلامی افغانستان!**

**السلام علیکم و رحمت الله و برکاته**

و بعد: به اساس هدایت مقام محترم عالی ستره محکمه، ریاست عمومی دارالانشاء ستره محکمه با در نظر داشت فرامین مقام محترم عالی امارت اسلامی، اصولنامه اداری، اصولنامه حقوقی، لائحه محاکم و متحدالمآلهای ریاست عمومی دارالانشاء ستره محکمه فیصله های قطعی و نهائی محاکم ابتدائیه و استنیاف را معلوم نموده که تفصیل آن در مجلس مورخ ۲۹/ جمادی الاولی/۱۴۴۵ هق مصادف ۲۲/ قوس/۱۴۰۲ هش شورایعالی ستره محکمه تقدیم گردید، شورایعالی در مورد آن طی فیصله اول تصویب نمبر (۱۳) هدایت نموده بودند که ترجمه دری آن قرار ذیل است:

((صورتهای فیصله های قطعی و غیر قطعی محاکم ابتدائیه و استیناف که از جانب ریاست عمومی دارالانشاء ستره محکمه ترتیب گردیده تائید است، به شکل اصولنامه به لسان های پشتو و دری تنظیم گردیده و حواله آن در قسمت پا ورقی درج گردد.)) مطابق هدایت متذکره از جانب ریاست عمومی دارالانشاء ستره محکمه صورتهای فیصله های قطعی و غیر قطعی محاکم ابتدئیه و استیناف به لسان های پشتو ودری در (۲۰) ماده به شکل اصولنامه ترتیب و ضمیمه پیشنهاد به مقام محترم عالی ستره محکمه تقدیم گردید، در مورد آن مقام محترم عالی ستره محکمه بتاریخ ۲۸/ جمادی الثانیه/۱۴۴۵ هق حکم نمودند که ترجمه دری آن قرار ذیل است:

((صورتهای قطعی و غیر قطعی فیصله های محاکم ابتدائیه و استیناف که به لسان های پشتو و دری با ذکر حواله آن مطابق هدایت فیصله اول تصویب نمبر (۱۳) مورخ ۲۹/ جمادی الاولی/۱۴۴۵ هق مصادف ۲۲/ قوس/۱۴۰۲ هش شورایعالی ستره محکمه ترتیب گردیده، تائید است، طور متحدالمآل به همه محاکم ارسال گردد.))

بناءً مطابق هدایت تحریری فوق مقام عالی ستره محکمه، صورتهای فیصله های قطعی و غیر قطعی محاکم ابتدائیه و استیناف که به لسان های پشتو ودری در (۲۰) ماده و با ذکر حواله به شکل اصولنامه از جانب ریاست عمومی دارالانشاء ستره محکمه ترتیب گردیده است توسط متحدالمآل هذا در ظرف (۶) ورق به ریاست های مربوط ستره محکمه تمیزها، دیوانها، محاکم مرافعه و ابتدائیه امارت اسلامی افغانستان اخبار گردید تا مطابق آن اجراآت اصولی صورت گیرد.

**با احترام**

۱۴۴۵ هق

**مفتی عبدالرشید "سعید"**
**رئیس عمومی دارالانشاء**
**ستره محکمه**

ستره محکمه
ریاست عمومی دارالانشاء

Address: Public health Square 9th District, Kabul-Af
Phone: ۰۲۰۲۳۰۰۰۹۲
Post box: ۱۹۸۹
Email: darulinsha@gmail.com
Website: www.supremecourt.gov.af

آدرس: چهارراهی صحت عامه، ناحیه نهم، کابل- افغانستان
تیلفون معاونیت: ۰۲۰۲۳۰۰۰۹۲
پست بکس: ۱۹۸۹
ایمیل: darulinsha@gmail.com

بسم الله الرحمن الرحيم

د افغانستان اسلامي امارت

ستره محکمه

د دارالانشاء عمومي رياست

د تحريراتو آمريت

تاريخ: ١٢/ جمادي الثانية/ ١٤٤٥ هق
مصادف: ٥/جدی/ ١٤٠٢ هش

عاجل ☐ عادی ☐ اطمینانیه ☐ ابلاغیه ☐ سایر ☐

## د ابتدائيي او استيناف د قطعي فيصلو صورتونه

د ستري محکمې د دارالانشاء عمومي رياست په متحدالمآل نمبر (٣٠) مورخ ١٤٤٤/٣/٢٩ هـ ق کې هدايت شوی:(د ابتدائيه، استيناف او نظامي محاکمو هغه فيصلې چې په ابتدائيه او استيناف مرحله کې قطعي کيږي هغه دي د اجراء د امر تر لاسه کولو لپاره تميز ته نه رالستوي خپله دي تطبيقوي...) اوس ځينې محاکم پوښتنه کوي چې په ياد متحدالمآل کې د قطعي فيصلو څخه مراد کومې فيصلې دي، په اړه يې د ستري محکمې محترم عالي مقام د ستري محکمې دارالانشاء عمومي رياست ته هدايت وکړ: چې د مشرتابه محترم عالي مقام احکامو، فرامينو، اداري اصولنامې، حقوقي اصولنامې، د محاکمو لائحې او د ستري محکمې د دارالانشاء عمومي رياست متحدالمآلونو ته په کتلو د ابتدائيه او استيناف محکمو د فيصلو قطعي صورتونه معلوم کړئ، د ياد هدايت مطابق د ستري محکمې دارالانشاء عمومي رياست د ابتدائيه او استيناف محکمو د فيصلو قطعي صورتونه معلوم کړل چې تفصيل يې په لاندي ډول دی:

١ـ په حقوقي موضوعاتو کې چې د مدعی بها مقدار د اداري اصولنامې په دوهمه ماده کې د ذکر شوي مقدار څخه زيات نه وي د ابتدائيې فيصله قطعي ده. البته د حقوقي اصولنامې د ٢١١ مادې مستثنيات دي په نظر کې ونيول شي.

٢ـ په جزائي موضوعاتو کې د ابتدائيه محکمې تر يوې مياشتې پورې (تر يوې مياشتې کم يا پوره يوه مياشت) د حبس فيصله

## صورتهای فیصله های قطعی محاکم ابتدائیه و استیناف

در متحدالمآل شماره (٣٠) مورخ ١٤٤٤/٣/٢٩هـق رياست عمومي دارالانشاء ستره محکمه هدايت صدرو يافته که: (فيصله های محاکم ابتدائيه، استيناف و محاکم نظامی که در مرحله ابتدئيه يا استيناف قطعی ميگردد، غرض اخذ امر اجراء آنرا به تميز ارسال ننمايند خود شان تطبيق نمايند...) اکنون بعضي از محاکم پرسش مينمايند که در متحدالمآل متذکره مراد از فيصله های قطعي، کدام فيصله ها است، در مورد مقام محترم عالی ستره محکمه به رياست عمومی دارالانشاء ستره محکمه هدايت نمودند تا با درنظرداشت احکام و فرامين مقام محترم عالی امارت اسلامی، اصولنامه اداري، اصولنامه حقوقي، لائحه محاکم و متحدالمآلهای رياست عمومی دارالانشاء ستره محکمه، صورتهای فيصله های قطعی ابتدائيه و استيناف را تشخيص نمائيد، طبق هدايت متذکره رياست عمومی دارالانشاء ستره محکمه، صورتهای قطعی فيصله های محاکم ابتدائيه و استيناف را تشخيص نمودند که تفصيل آن قرار ذيل است:

١ـ در موضوعات حقوقی که مقدار مدعی بها از مقدار ذکر شده ماده دوم اصولنامه اداری بيشتر نباشد حکم محکمه ابتدائيه قطعی ميباشد. البته مستثنيات ماده ٢١١ اصولنامه حقوقي در نظر گرفته شود.

٢ ـ در موضوعات جزائی فيصله حبس محکمه ابتدائيه که مدت آن الی يک ماه (از يک ماه کم و يا يک ماه کامل) باشد

ستره محکمه
رياست عمومی دارالانشاء

بسم الله الرحمن الرحیم

## د افغانستان اسلامي امارت

## ستره محکمه

### د دارالانشاء عمومي رياست

### د تحريراتو آمريت

تاریخ: ۱۲/ جمادي الثانية/ ۱٤٤٥ هق
مصادف: ٥/جدی/ ۱٤۰۲ هش

☐ عاجل ☐ عادي ☐ اطمينانيه ☐ ابلاغيه ☐ ساير

| | |
|---|---|
| قطعي ده[۱]، البته دغه قطعيت يې يوازي د محکوم عليه په طرف کې دي جانب مقابل يې مرافعه غوښتلای شي[۲] د اجراء په صورت کې دي د ستري محکمې د دارالانشاء عمومي رياست متحدالمآل نمبر (۳۸) مورخ ۱٤٤٤/٦/٤ هق په نظر کې ونيول شي. | قطعی است.[۱] البته این قطعیت در قسمت محکوم علیه می باشد، جانب مقابل آن مرافعه طلبی کرده می تواند[۲] حین اجراء متحدالمآل نمبر (۳۸) مورخ ۱٤٤٤/٦/٤ هق ریاست عمومی دارالانشاء ستره محکمه مد نظر گرفته شود. |
| ۳- په حق العبد کې چې د ابتدائيې په فيصله دواړه طرفه (مدعي او مدعی عليه) قناعت وکړي او فيصله ددغه قسمونو (د صغير په ضرر شوې ، د اعدام ، قصاص، حد، عمري بند) څخه نه وي ياده فيصله قطعي ده.[۳] | ۳ ـ در موضوعات حق العبد که جانبین (مدعی و مدعی علیه) به فیصله محکمه ابتدائیه قناعت نمایند و فیصله از این اقسام (به ضرر صغیر، اعدام، قصاص، حد، حبس ابد) نباشد، فیصله متذکره قطعی میباشد.[۳] |
| ٤ـ د ابتدائيې فيصله چې پر مدعي باندي د مدعي په صريح اقرار يا پر مدعی عليه باندي د مدعی عليه په صريح اقرار صادره شوې وي قطعي ده.[٤] | ٤ ـ فیصله ابتدائیه که به اساس اقرار صریح مدعی بر مدعی صدور یافته باشد یا به اساس اقرار صریح مدعی علیه بر مدعی علیه صدرو یافته باشد قطعی است.[٤] |
| ٥ـ د ابتدائيې فيصله چې پر غير مشبوه وثيقه بناء وي قطعي ده.[٥] | ٥ ـ فیصله ابتدائیه که بر وثیقه غیر مشبوه بناء باشد، قطعی است.[٥] |
| ٦ـ د ابتدائيې فيصله چې پر شرعي ابراء بناء شوې وي قطعي ده.[٦] | ٦ ـ فیصله ابتدائیه که بر ابراء شرعی بناء شده باشد، قطعی است.[٦] |

---

(۱) (...په جزائي معاملاتو کې تر يوې مياشتې حبس نه «چې د سپکو جرائمو له ډوله بلل کيږي» زيات نه وي د ابتدائيې محکمې حکم قطعي دی، اداري اصولنامه دوهمه ماده.

(۲) البته که د احتساب په موضوعاتو کې ابتدائيه د يوې مياشتې حبس يا مرافعه د شپږ مياشتو حبس حکم وکړي دغه د ابتدائيې او مرافعې فيصله يواځې د مدعی عليه په طرف کې قطعي ده د مدعي په طرف کې قطعي نه ده. مکتوب نمبر (۱۹۳ ج ٤) مورخ ۱٤٤۱/۱۱/۲۹ هق د محاکمو عالي اداره.

(۳) نوري دعوی ګانې په داسې حال کې چې دواړه خواوې مرافعه ونه غواړي تر اجراء لاندې نيول کيږي، پرته د صغير له دعوې، اعدام، قصاص، حدود او عمري بند څخه چې د دريو واړو محکمو له طې کولو نه وروسته تطبيق کيږي. اداري اصولنامه دوهمه ماده. همدارنګه قصاص، دوام حبس، اعدام، د عدلي محکمو د اداري اصولنامې له (۲) مادې سره سم او د هغو صغيرانو دعوی چې مدعي يا مدعی عليه واقع شوی وي او د صغيرانو په ضرر پای ته رسيدلې وي، ددعوو د اوريدنې د اصول د ضميمې سره سم مرافعې او تميز ته وړاندې کيدونکې دي. د حقوقي اصولنامې د (۲۱۱) مادې تبصره.

(٤) د ابتدائيې محکمو په هغو فيصلو کې چې د مدعي يا مدعی عليه د اقرار يا د حکم مدار وثيقې او شرعي ابراء په اساس مبني وي د مرافعې او تميز غوښتنه يې نه اوريدله کيږي مشبوهه وثيقې ددې مادې څخه مستثنی دي. اداري اصولنامه څوارلسمه ماده، هغه فيصلې چې د تميز وړ نه دي:- الف هغه احکام چې په صريح اقرار يا ابراء مستند وي او تميز غوښتونکې يوازې له اقرار او ابراءڅخه له خپل حضور څخه انکار کوي او قوي دلائل چې وثيقه مشبوهه کړي ونلري او يا په نه حضور او نه اقرار باندې متواتره نفي موجوده نه وي، د حقوقي اصولنامې د (۲٥۱) ماده.

(٥) المرجع السابق.

(٦) المرجع السابق.

۷ـ مدعي او مدعی علیه دواړو مربوطه ابتدائیه محکمې ته رسمي لیکلی سند ورکړی وي چې مرافعه نه غواړي په دغه صورت کې د ابتدائیې فیصله قطعي ده.(۷)

همداسي که مرافعې ته دواړو (مدعي او مدعی علیه) رسمي لیکلی سند ورکړی وي چې تمیز نه غواړو په دغه صورت کې د مرافعې فیصله قطعي ده.(۸)

۸ـ مرافعه طلب جانب د مرافعه طلبۍ په موده کې د مرافعه طلبۍ څخه تیر شي او رسمي سند د مرافعې د نه غوښتلو محکمې ته وړاندي کړي د ابتدائیې فیصله قطعي ده.(۹)

همداسي که تمیز طلب جانب د تمیز طلبۍ په موده کې د تمیز طلبۍ څخه تیر شي او رسمي سند د تمیز نه غوښتلو مرافعې ته وړاندي کړي د مرافعې فیصله قطعي ده.

۹ـ د ابتدائیې تر فیصلې وروسته محکوم علیه په خپله خوښه محکوم به محکوم له ته وسپاري د ابتدائیې فیصله قطعي ده.(۱۰)

همداسي د مرافعې تر فیصلې وروسته محکوم علیه په خپله خوښه محکوم به محکوم له ته وسپاري د مرافعې فیصله قطعي ده.

۷ ـ مدعی و مدعی علیه هردو سند رسمی تحریری را به محکمه ابتدائیه داده باشند که مرافعه نمی خواهند در این صورت فیصله ابتدائیه قطعی است. (۷)

همچنان اگر (مدعی و مدعی علیه) هر دو به مرافعه سند رسمی تحریری داده باشند که تمیز نمی خواهند در این صورت فیصله مرافعه قطعی است.(۸)

۸ ـ جانب مرافعه طلب در میعاد مرافعه طلبی از مرافعه طلبی منصرف گردد و سند رسمی انصراف مرافعه طلبی را به محکمه تقدیم نماید، فیصله ابتدائیه قطعی است. (۹)

همچنان اگر جانب تمیز طلب در میعاد تمیز طلبی از تمیز طلبی منصرف گردد و سند رسمی انصراف از تمیز طلبی را به مرافعه تقدیم نماید، فیصله مرافعه قطعی است.

۹ ـ محکوم علیه بعد از فیصله ابتدائیه محکوم به را به رضایت خود به محکوم له تسلیم نماید، فیصله ابتدائیه قطعی است. (۱۰)

همچنان بعد از فیصله مرافعه، محکوم علیه به رضایت خود محکوم به را به محکوم له تسلیم نماید، فیصله مرافعه قطعی است.

---

(۷) مدعي او مدعی علیه هغې ابتدائي محکمې ته چې د قضیې د حل او فصل واک لري داسي رسمي سند ورکړی وي چې مرافعه نه غواړي ددوی د استیناف حق ساقط بلل کیږي اداري اصولنامه(۲۰۲) ماده.

(۸) ج – دواړو خواؤ تعهد کړی وي او ددوی تعهد رسمي صورت موندلی وي چې زموږ د تمیز حق ساقط دی. د حقوقي اصولنامې (۲۵۱) ماده.

(۹) که مرافعه غوښتونکي شخص د مرافعې غوښتنې په ټاکلي میعاد کې له خپلې دعوې څخه آوښتل په رسمي سند کې محکمې ته وړاندي کړي مرافعه محکمه دده د مرافعه غوښتنې د حق د سقوط په خصوص کې یو حکم صادروي په دې صورت کې د ابتدائیې محکمې حکم قطعي ګرځي اداري اصولنامه (۲۲۰) ماده.

(۱۰) هغه شخص چې د ابتدائیه محکمې له حکم څخه وروسته محکوم علیه واقع شوی دی او په خپله رضا او رغبت محکوم به محکوم له ته وسپاري، د استیناف حق نه لري. د حقوقي اصولنامې (۲۱۸) ماده.

بسم الله الرحمن الرحیم

د افغانستان اسلامي امارت

**ستره محکمه**

**د دارالانشاء عمومي رياست**

**د تحریراتو آمریت**

تاريخ: ۱۲/ جمادي الثانية/ ۱٤٤٥ هق
مصادف: ٥/جدی/ ۱٤۰۲ هش

☐ عاجل ☐ عادی ☐ اطمینانیه ☐ ابلاغیه ☐ سایر

| | |
|---|---|
| ۱۰ـ محکوم علیه د ابتدائیې یا استیناف په فیصله قناعت وکړي یاده فیصله قطعي ده.[۱۱] البته په جزائي موضوعاتو کې دغه قطعیت یوازې د محکوم علیه په طرف کې دي.[۱۲] | ۱۰ ـ محکوم علیه به فیصله ابتدائیه یا استیناف قناعت نماید فیصله متذکره قطعی است.[۱۱] البته در موضوعات جزائی همین قطعیت فقط در قسمت محکوم علیه می باشد.[۱۲] |
| ۱۱ـ په کومه موضوع کې چې د مصلحینو تامه صلحه د ابتدائیې محکمې لخوا تائید شي یاده فیصله قطعي ده که څه هم یو جانب قناعت نه لري تر څو چې دا خبره یې کړې نه وي چې دغه صلحه غیر شرعي ده.[۱۳] | ۱۱ ـ در موضوع که صلح تام مصلحین از طرف محکمه ابتدائیه مورد تائید قرار گیرد فیصله متذکره قطعی است اگر چه یک جانب قناعت ننماید تا اینکه نگوید این صلح غیر شرعی است.[۱۳] |
| ۱۲ـ ابتدائیې د صلحې په تائید فیصله کړې وي غیر قانع جانب ادعاء لري چې صلحه غیر شرعي ده په دغه صورت کې مرافعې او هم تمیز ته په خپل اصولي وخت کې د نورو فیصلو په شان تللای شي.[۱٤] | ۱۲ ـ ابتدائیه به تائید صلح فیصله نموده باشد و جانب غیرقانع آن ادعاء داشته باشد که صلح غیر شرعی است در این صورت مانند فیصله های دیگر در میعاد معین آن به مرافعه و تمیز محول شده می تواند.[۱٤] |
| ۱۳ـ د ابتدائیې فیصله چې پر وثیقه بناء وي غیر قانع جانب د وثیقې د مشبوهیت ادعاء ولري په دغه صورت کې یاده فیصله مرافعه او تمیز لري.[۱٥] | ۱۳ـ فیصله ابتدائیه که بر وثیقه بناء باشد و جانب غیر قانع ادعاء مشبوهیت وثیقه را داشته باشد در این صورت فیصله متذکره مرافعه و تمیز دارد.[۱٥] |

---

(۱۱) د محاکمو لائحه ماده (۷) د قطعیت مطلب.

(۱۲) البته که د احتساب په موضوعاتو کې ابتدائیه د یوې میاشتې حبس یا مرافعه د شپږ میاشتو حبس حکم وکړي دغه د ابتدائیې او مرافعې فیصله یواځې د مدعی علیه په طرف کې قطعي ده د مدعي په طرف کې قطعي نه ده. مکتوب نمبر (۱۹۳ ج ٤) مورخ ۱٤٤۱/۱۱/۲۹ هق د محاکمو عالي اداره.

(۱۳) که دغه غیر قانع جانب دغه خبره نه کوله چې دغه صلحه شرعي نه ده بلکه یواځې په دې وجه یې قناعت نه درلودی چې فیصله د ده په ګټه نه وه په دغه صورت کې بیا دغه د ابتدائیې تائید سوې صلحه مرافعه او تمیز نه لري د محاکمو د عالي ادارې مکتوب نمبر (٤۰٥) مورخ ۱٤٤۰/۱۰/۱۳هق.

(۱٤) که دغه غیر قانع جانب وویل چې دغه صلحه شرعي نه ده په دغه صورت کې دغه د ابتدائیې تائید سوې صلحه مرافعه او تمیز لري د محاکمو د عالي ادارې مکتوب نمبر (٤۰٥) مورخ ۱٤٤۰/۱۰/۱۳هق.

(۱٥) هغه حقوقي قضیې چې د ابراء، صلح د وثیقو او دغه راز د اقرار د فیصلو د مشبوهیت له حیثه د عدلي محکمو د اداري اصولو د (۱٤) مادې لمخې مرافعه او تمیز لري [illegible] د مشبوهیت له نیتې څخه په نظر کې ونیول شي نه د اصلي وثیقې له مخې. د اداري اصولنامې د (۱٤) مادې د ضمیمې الف جزء.



ستره محکمه

بسم الله الرحمن الرحيم

# د افغانستان اسلامي امارت

## ستره محکمه

### د دارالانشاء عمومي رياست

### د تحريراتو آمريت

تاريخ: ۱۲/ جمادي الثانية/ ۱۴۴۵ هق
مصادف: ۵/جدی/ ۱۴۰۲ هش

☐ عاجل ☐ عادی ☐ اطمینانیه ☐ ابلاغیه ☐ سایر

| | |
|---|---|
| ۱۴ـ فیصله پر اقرار بناء وي او غیر قانع جانب د اقرار د مشبوهیت ادعاء لري په دغه صورت کې مرافعه او تمیز لري.(۱۶) | ۱۴ ـ فیصله که بر اقرار بناء باشد و جانب غیر قانع ادعاء مشبوهیت اقرار را داشته باشد در این صورت مرافعه و تمیز دارد.(۱۶) |
| ۱۵ـ فیصله پر ابراء بنا وي خو غیر قانع جانب د ابراء د غیر شرعي والي یا مشبوهیت ادعاء ولري په دغه صورت کې د نورو موضوعاتو په شان د استیناف او تمیز په موده کې استیناف او تمیز ته تللای شي.(۱۷) | ۱۵ ـ فیصله بر ابراء بناء باشد و جانب غیر قانع ادعاء غیر شرعی بودن ابراء یا مشبوهیت آن را داشته باشد در این صورت مانند موضوعات دیگر در میعاد معین استیناف و تمیز به استیناف و تمیز محول شده میتواند.(۱۷) |
| **خبرتیا:** د سندونو د مشبوهیت او جعلي والي د ادعاء په څېړلو کې د لاندنیو ټکو په پام کې نیول ضروري دي:<br>۱ـ لیک، لاسلیک، مهر، د ګوتي نښه او د وثیقي د شاملینو عکسونه په دقت کتل.<br>۲ـ بې له تصحیح څخه د ټکو ګل کول موښل او قلم وهل.<br>۳ـ مهر او لاسلیک نه لرل.<br>٤ـ د وثیقي په اصل او ثبت کې توپیر راتلل.(۱۸) | **آگاهی:** هنگام بررسی ادعاء اسناد های مشبوه و جعلی مراعات نمودن نکات ذیل ضروری می باشد:<br>۱ـ نوشتاری، امضاء، مهر، نشانه انگشت و عکس های شاملین در وثیقه ها با دقت کامل دیده شود.<br>۲ـ بدون تصحیح از بین بردن، تراشیدن و قلم خور کردن نقطه ها.<br>۳ـ نداشتن مهر و امضاء.<br>٤ـ تغیر آمدن در اصل و ثبت و ثیقه.(۱۸) |
| ۱٦ـ د تمیز ټاکلې موده تیره شوې وي موضوع تمیز ته راشي، په فیصله یا فیصلو کې شرعي نقصانات وي تمیز یې په اړه داسې اصولي اجراآت کولای شي لکه په قانوني موده کې چې د نورو موضوعاتو په هکله کوي.(۱۹) | ۱٦ ـ مدت معین تمیز منقضی باشد و موضوع محول تمیز گردد، در فیصله یا فیصله ها نقصانات شرعی وجود داشته باشد تمیز در مورد آن اجراآت اصولی کرده میتواند، مثلیکه در میعاد قانونی تمیز طلبی به موضوعات دیگر اجراآت می نماید.(۱۹) |

---

(۱۶) المرجع السابق.

(۱۷) هغه حقوقي قضیې چې د ابراء، صلح د وثیقو او دغه راز د اقرار د فیصلو د مشبوهیت له حیثه د عدلي محکمو د اداري اصولو د (۱٤) مادې لمخې مرافعه او تمیز لري لازمه ده چې د مشبوهیت له نیتې څخه په نظر کې ونیول شي نه د اصلي وثیقې له مخې. د اداري اصولنامې د (۱٤) مادې د ضمیمې الف جزء.

(۱۸) الشوائب كثيرة تدرك من وجود أثر حك او محو في السند و من تتبع القرائن والأمارات و أحوال الطرفين و أسباب الحادثة وغير ذلك (شرح المجلة للأتاسي ج ٥ ص ٣٥٧).

(۱۹) تمیز ته بعضي فیصلې د ابتدائیې او مرافعې محاکمو راځي چې د تمیز وخت یې تیر وي محکوم له یې اجراء غواړي یا یې مسؤلین په هکله هدایت غواړي او حکم د فیصلو په مجموع کې صحیح نه وي بغیر د اداري نواقصو څخه اوس که تمیز د اجراء امر ورکړي د فیصلې حکم صحیح نه دی او که جریان ورکوي د تمیز قانوني میعاد یې تیر وی، په اړه یې د مشرتابه محترم عالي مقام څخه د هدایت غوښتنه شوي وه: (امیرالمؤمنین «حفظه الله» په یاده موضوع کې تمیز ته صلاحیت ورکړ چې میعاد یې تیر وي حکم په مجموع کې نه وي چې فیصلې نقض کړي بیا دوران ورکړي او د اداري نقصاناتو په صورت کې دې تمیز د اصولنامې د موادو مطابق تمیز غوښتنه مسترده کړي چې قانوني میعاد د تمیز طلبۍ یې تیر دی موږ یې تر غور لاندې نه نیسو.) د تمیز او عالي اداري د مجلس مورخ ۱۴۳۸/۵/۱۸ هق خلاصه چې د مشرتابه محترم عالي مقام لخوا تائید شوې ده.



ستره محکمه

بسم الله الرحمن الرحيم

دافغانستان اسلامي امارت

**ستره محکمه**

**د دارالانشاء عمومي رياست**

**د تحريراتو آمريت**

تاریخ: ۱۲/ جمادي الثانية/ ۱٤٤٥ هق
مصادف: ۵/جدی/ ۱٤۰۲ هش

☐ عاجل ☐ عادی ☐ اطمینانیه ☐ ابلاغیه ☐ سایر

| | |
|---|---|
| ۱۷ـ د تمیز ټاکلې موده تیره شوې وي موضوع تمیز ته راشي په فیصلو کې شرعي نقصانات نه وي که څه هم اداري نقصانات ولري په یاده موضوع کې شوي فیصلې یا فیصله قطعي ده.[۲۰] | ۱۷ ـ مدت معین تمیز منقضی باشد موضوع محول تمیز گردد، در فیصله ها نقصانات شرعي وجود نداشته باشد، با آنکه نواقص اداری داشته باشد، فیصله یا فیصله ها در موضوع متذکره قطعي است. [۲۰] |
| ۱۸ـ د نظامي محاکمو تعزیراتي فیصلې چې پرته له اعدام او عمري بند څخه وي قطعي دي.[۲۱] | ۱۸ ـ فیصله های تعزیراتی محاکم نظامی به استثناء اعدام و حبس ابد قطعي میباشد. [۲۱] |
| ۱۹ـ هره فیصله چې په ابتدائیه کې قطعي شوه د اجراء مکتوب به یې همغه ابتدائیه ورکوي که په استیناف کې قطعي شوه د اجراء مکتوب به یاد استیناف ورکوي، د تمیز عالي ریاست ته د اجراء د امر د تر لاسه کولو لپاره استول نه غواړي البته د قطعي فیصلې کاپي به د تمیز عالي ریاست ته د خبرتیا لپاره استوي.[۲۲] | ۱۹ ـ هر فیصله که در مرحله ابتدائیه قطعي گردد مکتوب اجراء آنرا همان محکمه ابتدائیه صادر نماید و اگر در استیناف قطعي گردد مکتوب اجراء آنرا استیناف متذکره صادر نماید، غرض اخذ نمودن امر اجراء به ریاست عالی تمیز ارسال نگردد فقط کاپي فیصله قطعي جهت آگاهی به ریاست عالی تمیز ارسال گردد.[۲۲] |
| ۲۰ـ **یادونه:** هره موضوع چې د ابتدائیې تر فیصلې وروسته د یو جانب په غوښتنه استیناف ته راغله استیناف محکمه به لومړی د استیناف حق لرل او نه لرل تثبیتوي بیا به اصولي اقدام کوي همداسې تمیز ته د راغلې موضوع به اول دا تثبیت کیږي چې تمیز لري او که نه؟[۲۳] | ۲۰ ـ **یادداشت:** هر موضوع که بعد از فیصله ابتدائیه به نسبت عدم قناعت یک جانب به مرافعه مواصلت نماید محکمه در قدم نخست حق داشتن و نداشتن استیناف طلبی را ثابت نماید بعداً اقدام اصولی نماید همچنان در مرحله تمیز نیز اولاً ثابت گردد که حق تمیز طلبی دارد یا خیر؟ [۲۳] |

---

[۲۰] المرجع السابق.

[۲۱] نظامي محاکم د شرعي احکامو په رڼا کې د اسلامي امارت د درې کونو امنیتي ارګانونو (ملي دفاع وزارت، کورنیو چارو وزارت او د استخباراتو لوی ریاست) پر چارواکو او منسوبینو باندې د تر سره شوو شکایاتو، دعواوو او عرائضو د اوریدلو او څیړلو او د اثبات په صورت کې د شرعي پریکړو د صادرولو صلاحیت لري، چې د پریکړو (حدود، قصاص او اعدام ) تطبیق به یې د درې کونو محکمو او اسلامي امارت د مشرتابه تر تایید وروسته په عملي ډول تر سره کیږي... د مشرتابه محترم عالي مقام حکم نمبر (۲۳٦ج۱) مورخ ۱٤٤۳/۷/۱۰هـق.

[۲۲] د ابتدائیې، استیناف او نظامي محاکمو هغه فیصلې چې په ابتدائیه او استیناف مرحله کې قطعي کیږي هغه دي د اجراء د امر تر لاسه کولو لپاره تمیز ته نه استوي خپله دي طبیقوي. د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي ریاست متحدالمآل نمبر (۳۰) مورخ ۱٤٤٤/۳/۲۹هـق.

[۲۳] که د استیناف په وخت کې یو د متخاصمینو څخه هغه د استیناف وړ ونه بولي نو لازم ده چې مرافعه محکمه لومړی د هغه د استیناف د حق لرل او نه لرل تثبیت کړي و...
له هغه په اصله موضوع کې په اقداماتو کې داخل شي او کنه تمیز کولای شي چې نظر د ا
صول نه رعایت ته دا حکم مات کړي. حقوقي اصولنامه ۲۱۰ ماده.



ستره محکمه
رياست عمومي دارالانشاء